# په افغانستان کی د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو اهمیت او ننگونی

**پوهندوی میرویس احمدزی**

د منجمنت او اداره تشبثات څانگی، د اقتصاد پوهنځی، د کابل پوهنتون ، کابل، افغانستان
ایمیل: mirwais.ahmadzai@yahoo.com

**لنډیز**

کوچینیو او منځنیو کاروبارونو ته په کتو چې په اقتصادی او ټولنیزه پراختیا، د دندو رامنځته کولو، عوایدو لوړولو، غربت کمولو، بېکاری له منځه وړلو او چاپیریال ساتنه کې د پام وړ اغېزې لري، نوموړې برخه د یوه هېواد د اقتصادي فعالیتونو هسته او مرکز هم تشکیلوي. دا څېړنه ( په افغانستان کې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو اهمیت او ننگونې) تر عنوان لاندې چې له کمی او کیفي لارو چارو څخه پکې استفاده شوې ده بیانوي چې د افغانستان ۸۰٪ کاروبارونه کوچنی او متوسط کاروبارونه دي چې د هېواد ۵۰٪ ناخالص تولیدات برابروي او د هیواد ۳/۱ کاری قوه په نوموړیو کاروبارونو کې بوخته ده. باید ذکرشي چې افغانستان کې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو شمېر مشخص نه دی، خو د هېواد د کاری قوې لوړه فیصدي یې په کار گومارلې او ۵۰٪ ناخالص داخلی تولیدات جوړوي. دغه څېړنې ښودلې ده چې د افغانستان ۲۰-۳۰ سلنه صادارت د همدې کاروبارونو څخه په لاس راځي.

**کلیدی اصطلاحات:** کوچنی او منځني کاروبارونه؛ د دندو پیداکول؛ خصوصی سکتور؛ وده او پرمختگ

# Importance and Challenges of Small and Medium Businesses in Afghanistan

**Associate prof. Mirwais Ahmadzai**

Department of management and business administration, Faculty of economics, Kabul university, Kabul Afghanistan
Email: mirwais.ahmadzai@yahoo.com

**Abstract**

Small and medium scale businesses have a direct and important role on economic and social development, job creation, income growth, poverty reduction, unemployment elimination and environmental protection. This forms of businesses is the center of economic activities of a country. This article (Importance, challenges and Economic important of Small and Medium-sized Businesses in Kabul City) tells that more than eighty percent of businesses are small and medium size and also tells us that more than fifty percent of our GDP is because of small and medium businesses and more than 1/3 human resources are busy in mentioned businesses. In Afghanistan specific number of small and medium enterprises is unknown; But provide fifty percent of total employment opportunities and contributes fifty percent of our total GDP as well as our twenty to thirty percent of export is because of small and medium enterprises.

**Keywords:** Small and Medium Enterprises; Employment; Private Sector; Growth and Development

## سریزه

کوچنی او منځني کاروبارونه د هېوادونو د خصوصي سکتور زړه او هستوي حیثیت لري او په عین وخت کې د اقتصادي پرمختګ هسته هم بلل کیږي. د اقتصادي پرمختګ لپاره د پلانونو بنسټ او لومړنی عنصر بلل کیږي. اوسمهال د نړۍ ۹۰٪ کاروبارونه کوچني او منځني کاروبارونه دي. په پوره باور او پوهاوي سره ویلای شو څو چې د یو ملک کوچنی او منځني کاروبارونه پرمختګ ونه کړي، نوموړی هېواد اقتصادي وده نه شي کولای. له بله اړخه نوموړی سکتور د هېوادونو په فرهنګي غوړېدا کې هم رغنده رول لری.

یو دولت هغه وخت بسیاینې ته رسېږي چې د کاروبارونو د ودې او نمو زمینه یې برابره کړي وي. کوچنی او منځني کاروبارونه زیاتو هېوادوالو ته د کار زمینه برابروي، همدارنګه د مهارتونو لوړول هم یقیني کوي او یو اندازه د وارداتو مخه هم نیسي.

کوچنی او منځني کاروبارونه د هېواد د اقتصادي پرمختګ هسته تشکیلوي چې ۵۰٪ ناخالص ملی عاید جوړوي. په داسې حال کې چې مونږ په میلیونونه کاري ځواک لرو، اما افغانستان مو صرف یو مصرفی او نورو هېوادونو ته د خامو موادو برابرولو مرکز کرځولی، دا چې کوچنی او منځني کاروبارونه د تجارت څرخونه په حرکت راولي او د ټولنې اړتیاوو پوره کولو کې اساسي رول لوبوي، د زیات اهمیت سربېره دغه څېړنې زمونږ هیواد کې کوچني او منځني کاروبارونو اقتصادي اغېزې، فرصتونه، ننګونې او حل لارې په ګوته کړي دي.

څېړنه درې برخې لري؛ اوله برخه یې د څېړنې ستونزې، اهمیت، اهداف، پوښتنې، فرضیې، متحولین، د ارقامو راټولولو ډول او ارقامو راټولولو ستونزې دي. دویمه برخه د څېړنې مخینه ده چې له اړوندو اثارو څخه د کوچنی او منځنیو کاروبارونو تعریفونه، ګټې، عیبونه، د و دې پړاوونه او اقتصادي پرمختګ، په بېلابېلو دورو کې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو اقتصادي رول ، د یادو کاروبارونو د ودې عوامل، د کوچنی او منځنیو کاروبارونو اړوند اوسنۍ او راتلونکې هر اړخیزې او بشپړې ستراتیژۍ ځای پر ځای شوي دي. دریمه او وروستۍ برخه د څېړنې له لاسته راوړنو، تحلیل، پایلې، وړاندیزونو او په څېړنه کې له استفاده شویو ما خذونه څخه تشکیل شوې ده.

## دڅیړنې ستونزه

د پرمختللیو هېوادونو اقتصادي او ټولنیزو نظامونو ته په کتو سره ویلی شو چې کوچنی او منځني کاروبارونه رامنځته کول د یو مملکت د اقتصادي پرمختګ لپاره لومړنی او بنسټي شرط دی. کوچنی او منځني کاروبارونه اوس مهال د نړۍ ۹۰ سلنه کاروبارونه تشکیلوي. ضروري خبره دا ده چې یادو کاروبارونو ته زمینه برابرول اړین دي. هغه مملکتونه چې یاده برخه کې یې ښه زمینه برابره کړي ده، کورنۍ او بهرني

بازارونه یې تر خپل اثر لاندې راوستلي لکه جاپان، چین، روسیه، هندوستان او امریکا چې د یادو کاروبارونو له لارې یې ټوله نړۍ تر خپل تاثیر لاندې راوستلې ده. د ټولې نړۍ ۵۵-۹۰ سلنه ناخالص داخلي تولیدات د یادو کاروبارونو په واسطه تولیدیږي. د امریکا ٦۵٪ او چین هېواد ۷۰٪ سوداګري د همدې کاروبارونو په واسطه مخته وړل کیږي.

بدبختانه زمونږ هېواد د میلیونونو نفوس په درلودلو سره سره یو مصرفي او نورو هېوادونو ته د خامو موادو برابرونکی مملکت دی، چې ځینې عمده لاملونه یې عبارت دی له: د مختلفو مافیایی کړیو څخه د ځینې خلکو ملاتړ، د نړیوالو فشارونو زیاتیدل، د کاري ځواک کمښت، د بېکارۍ زیاتوالی او د مسؤلو کسانو غیر مسلکي چلن، ناسم تمویلي تدابیر چې کوچنی او منځنی کاروبارونو اړوند د سختو اقتصادي بحرانونو سبب ګرځي.

د کوچنی او منځنیو کاروبارونو اهمیت ته په کتو ټوله نړۍ هڅه کوي څومره ژر چې امکان لري یاد کاروبارونه شروع کړي او همدارنګه د شروع لپاره یې د هر ډول امکاناتو او سهولتونو برابرولو په لټه کې دي. د افغانستان زیاتره کاروبارونه د همدې کاروبارونو څخه دي چې ډېره برخه یې کابل کې فعالیت کوي. په دغه څېړنه کې هڅه کوم کابل ښار کې د یادو کاروبارونو اهمیت بیان کړم او همدارنګه په بېکارۍ، د عایداتو زیاتوالي، فقر له منځه وړلو او د یادو کاروبارونو لپاره فرصتونه او ننګونې په ګوته کړم.

افغانستان او په خاص ډول کابل ولایت کې کوچنی او منځني کاروبارونو اړوند زیاتې ستونزې موجودې دي چې له هغه جملې څخه د ضرورت وړ تکنالوژی ته محدود لاسرسی، ناسالمه سیالی، د دولت لخوا لازم ملاتړ، مالي خدماتو ته محدولاسرسی، په میراث را پاتې اداري فساداو نور له عمده مشکلاتو څخه دي. یادو مشکلاتو ته په کتو سره مې په خاص ډول کابل ولایت کې د کوچنی او منځنیو کاروبارونو لپاره په فرصتونو او ستونزو څېړلو باندې کار شروع کړ.

**د څېړنې اهمیت**

د کوچنی او منځنیو کاروبارونو اړوند زیاتې ستونزې وجود لري لکه د ضرورت وړ تکنالوژی ته نه لاس رسی، ناسالم رقابت، په میراث راپاتې مغلق قوانین، مالی خدماتو ته محدود لاسرسی، مروج فساد او د ماهر کاري ځواک کمی‌ت یې اصلی لاملونه دي.

په نړیواله کچه د پرمختللو او مخ پر ودې هېوادونو د اقتصادي پرمختګ یو مهم عامل کوچنی او منځنیو کاروبارونه دي چې د نړۍ نیمایي کاري ځواک ته یې د کار زمینه برابره کړې ده. د نړۍ معتبرو ادارو مطالعې، څېړنې او راپورونه روښانوي چې د نړۍ له نیمایي زیات کاروبارونه کوچنی او منځني دي او د

هېوادونو د ناخالص داخلی تولیداتو زیاته برخه د همدې کاروبارونو په اساس تولیدیږي. د نړۍ زیاتره کاري فرصتونه او تکنالوژیک نوښتونه د یادو کاروبارونو له امله منځته راځي. دا چې یاد کاروبارونه په یو شخص او مسلک پورې تړلي وي نو ځکه یوه برخه کې د زیاتو لاسته راوړنو او پرمختگونو لامل کیږي.

1. کوچني او منځنیو کاروبارونه څه اهمیت لري؟
2. د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو پر وړاندې کومې ننګونې موجودې دي؟
3. د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو د پرمختګ په پار کوم فرصتونه شتون لري؟

## د څېړنې موخې

د څېړنې اصلي موخه د کوچنی او منځنیو کاروبارونو د اهمیت تحلیل، شته ستونزو ته حل لارې او هیواد کې اقتصادي اثرات په گوته کول دي. دا چې کوچنی او منځني کاروبارونه د اقتصاد له مهمو ځانگو څخه دي او ښې اقتصادي اغیزې لري، بنا یاده څېړنه لاندې اهداف لري.

کوچني او منځنیو کاروبارونو اهمیت په گوته کول

د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو پر وړاندې د ننگونو په گوته کول

د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو د پرمختګ په پار د فرصتونو په گوته کول

## څېړندود

د دغه علمی مقالی په لیکلو کی له نویو او معتبرو سرچینو څخه کار اخیستل شوی دی. په دغه لیکنه کې یو پراخه علمی کره کتنې څخه استفاده شوې ده او په وروستی برخه کې یې د افغانستان لپاره د شرایطو او د هیواد د اقتصادی حالت مطابق سپارښتنې شوې دي.

## د څېړنې مخینه

په ۱۳۹۹ کال کې عثمانی، «د کوچنی او منځنیو کاروبارونو د ملاتړ، اقتصادي انقلاب گڼلو» تر عنوان لاندې څېړنه کړې ده. د څېړنې پایلې ښیي چې کوچني او منځني کاروبارونه د هېواد په جوړولو او پرمختګ کې ځلیدونکی ځای لري. د کاري فرصتونو برابرول، ناخالص ملی تولیداتو کې زیاتوالی، د عاید عادلانه وېش، د پیسو د چلند زیاتوالي او لنډه دا چې د یو ملک په اقتصادي وده کې یاد کاروبارونه زیات رول لري. همدارنگه کوچنی او منځني کاروبارونه د بېکارۍ د کچې کمولو، د کادرونو او شتمنۍ د تېښتې د مخنیوي، د کورنیو عوایدو سم ویش، ملي تولیداتو کې زیاتوالی، د وارداتو مخنیوی، د ټولنې متوازن انکشاف او کورنۍ ښېرازۍ سبب کیږي ( عثمانی، ۱۳۹۹).

احمدی په ۱۳۹۹ کال کې «د کوچنی او منځنیو کاروبارونو د رسمي کولو ضرورت» تر عنوان لاندې څېړنه کړې ده چې لاندې پایلې یې تر لاسه کړې دي. کوچنی او منځني کاروبارونه د نړۍ اقتصادي ودې په تېره بیا د مخ پر ودې هېوادونو لپاره د ګرځنده ماشین حیثیت لري. تجربو ښودلې چې کوچنی او منځني کاروبارونه په کمو مالي امکاناتو او ساده تکنالوژی باندې حرکت کوي. دا چې افغانستان د پانګې او ماهرو کسانو له کمي سره مخ دی، پردې بنسټ د بېکارۍ کمولو او اقتصادي ودې لپاره بهترینه لاره کوچنی او منځنیو کاروبارونو رامنځته کول دي. په افغانستان کې د سرمایې کموالی، ټیټ انساني مهارتونه، کافی خامو موادو ته نه لاسرسی او داسې نور د سوداګرۍ له عمده ستونزو څخه دي. زمونږ د هېواد ۸۵٪ کاروبارونه کوچنی او منځنی دي. پداسې حال کې چې د هېواد له نیمایي زیات ناخالص تولیدات رامنځته کوي، د هېواد ۳/۱ کاري قوه یې ګومارلې، خو له بده مرغه ۷۰-۸۰ سلنه کاروبارونه په نارسمي بڼه یعنې پرته له قانوني ثبت او جوازه څخه فعالیت کوي (احمدی، ۱۳۹۹).

سروش په ۱۳۹۵ کال کې د بېکارۍ او فقر کمولو کې د کوچنی او منځنیو کاروبارونو رول تر عنوان لاندې څېړنه کړې وه چې کاري فرصتونه رامنځته کول یې له مهمو مسائلو څخه ښودلې. یاده څېړنه په ګوته کوي چې ۲۰۱٦ کال کې په شرایطو برابر ۴۰٪ کسان بېکاره وو په داسې حال کې چې هر کال په زرګونو نور کسان یادې کټګورۍ ته ور اضافه کیږي. واضح خبره ده چې کوچنی او منځني کارونه د کاري فرصتونو په رامنځته کولو کې د نړۍ په کچه مهم رول لري چې نه یوازې بېکاره کسان بلکې دولتي اضافي کسان هم ګومار (سروش، ۱۳۹۵).

ظفر او صدف په ۲۰۱۷ کال کې «د پاکستان اقتصادي پرمختګ کې د کاروبارونو رول» تر عنوان لاندې څېړنه تکمیل کړې چې داسې نتایج لري: د پاکستان، هندوستان او چین د پرمختګ اصلی لامل کوچنی او منځنیو کاروبارونو رامنځته کېدل او وده وه. د پاکستان ۳۰٪ صادراتي توکی، چین ٦۰٪ ناخالص داخلي تولیدات او هند ۴۰٪ ناخالص تولیدات د کوچنی او منځنیو کاروباورنو په واسطه تولید شویدي. د پاکستان ۳,۲ میلیونه کسان یادو کاروبارونو کې بوخت دي ( ظفر و صدف، ۲۰۱۷).

**د کوچنی او منځنیو کاروبارونو پیژندنه**

کوچنی او منځني کاروبارونو اصطلاح ډول ډول شرکتونو ته کارېږي. کوچنی او منځني کاروبارونه د څېړونکو له لوري خاصو عملیاتي معیارونو ته کاریږي لکه: د ارزښت زیاتوالی، د شتمنۍ زیاتوالی، کلنی خرڅلاو او د کارکوونکو شمېر. د څېړونکي په اند اخري دوه موارد د سازمانونو په طبقه بندی کې کارول کیږي.

پرستون او همکاران (۱۹۸٦) یې ټول هغه کاروبارونه چې ملکیت او فعالیت یې خپلواک وي د کوچنی او منځنیو کاروبارونو په نامه یادوي. د کوچنی او منځنیو کاروبارونو لپاره د لیکونکو له خوا جامع او مشخص تعریف نه دی ورکړشوی ځکه واحد او ځانګړی تعریف به خامخا له تېروتنو خالي نه وي. په ځینو ځېړنو کې د خرڅلاو، عوایدو او کارکوونکو تعداد ته ویل کیږي او ځینو لیکوالو له نورو مقیاسونو ګټه اخیستې ده.

څرنګه چې لیکوالو له ډول ډول مقیاسونو استفاده کړي ده، خو زیاتر څېړونکو نوموړې اصطلاح د خرڅلاو اندازې، عواید او تولیدي اجناسو ته کارولې ده. له لویو کاروبارونو څخه د کوچنی او منځنیو کاروبارونو د بېلوالی لپاره په ځانګړو مواردو پریکړه نه ده شوې، یعنې د بېلوالی لپاره کوم ځانګړی معیار نشته. د مثال په ډول ځینې څېړونکي خپلو لیکنو کې هغه ادارې چې له ۵۰ زیات کارکوونکي ولري د لویو سازمانونو په نامه یادوي، ځینې څېړونکي هغه ادارې چې په کلنی بڼه له ۵۰ میلیون پونډو زیات خرڅلاو ولري او ۲۵۰ نفره تشکیل د لوی سازمان په نامه یادوي (انالویی، ۱۳۸۹).

د نړیوال بانک د تعریف په اساس هغه ادارې چې له ۳۰۰ زیات کارکوونکي، د شتمنی او مالي کلنی دوران یې ۱۵ میلیونه ډالر زیات نه وي د کوچنی او منځنیو کاروبارونو په نامه یادیږي. هغه معیارونه چې واړه، کوچنی او منځنیو سازمانونو د بیلوالي لپاره کارول شوي په لاندې جدول کې کتلی شئ.

د کاروبارونو جوړښت.

لومړی جدول: معیارونه چې واړه، کوچنی او منځنیو سازمانونو د بیلوالي لپاره کارول شوي

| د کاروبارونو ډلبندي | د کارکوونکو زیات شمېر | کالنی زیات خرڅلاو(زر ډالر) | د پانګې زیاته اندازه (زر ډالر) |
|---|---|---|---|
| واړه | ۱۰ | ۱۰ | ۱۰۰ |
| کوچنی | ۵۰ | ۳۰۰ | ۳۰۰۰ |
| منځني | ۳۰۰ | ۱۵۰۰۰ | ۱۵۰۰۰ |

سرچینه: د کوچنی او منځنیو کاروبارونو مالی ساتنې اداره

لکه څنګه چې په لومړي جدول کې لیدل کیږي، واړه سازمانونه اعظمي 10 کارمندان په درلودلو کی د 10 زره ډالرو په شاوخوا کې کلنی زیات خرڅلاو لري او له 100 زره ډالرو زیاد دارایی لري. همدارنګه، کوچني سازمانونه چې اعظمي 50 کارمندان درلودونکي ده او د 300,000 ډالرو څخه زیات کلنی خرڅلاو

او د 3 مليون ډالرو څخه زياته دارايي لري. په ورته ډول د منځنۍ کچې سازمانونه 300 کارمندان لري او د 15 مليون ډالرو څخه زيات کلنۍ خرڅلاو 15او مليون ډالر څخه زياته دارايي لري.

**په اسيايي هيوادونو کې د کوچنی او منځنيو کاروبارونو تعريفونه**

په زياتر اسيايي هېوادونو کې د کوچنيو او منځنيو کاروبارونو د کارکوونکيو او مالی څرخېدو لپاره له دوه معيارونو څخه ګټه اخيستل کيږي. په لاندې جدول کې چې کوچنی او منځني کاروبارونو لپاره جوړ شويده، هر يو يې د ځانګړو کلتوري او توليدي مناسبو شرايطو په نظر کې نيولو سره بيانوی ( خشنود، ۱۳۹۰).

دوم جدول: په اسيايي هېوادونو کې د کوچني او منځنيو کارو بارونو تعريف

| هېواد | تعريف | د تعريف معيار |
|---|---|---|
| تايوان | د ثبت شوې سرمايې اندازه تر ۴۰ ميليونه ډالرو کمه، ټوله پانګه له ۱۲۰ ميليون ډالرو کمه او د ناتوليدی کاروبارونو لپاره له ۴۰ ميليونه تايواني ډالرو کم | د پانګې، شتمنی او خرڅلاو اندازه |
| فليپين | د ټولې دارايي له۴۰ ميليونه ډالرو کم او د کارکوونکو ډېر تعداد ۲۰۰ تنه | دشتمنی او کارکوونکو اندازه |
| سوېلي کوريا | د ټولې دارايي اندازه له ۸۰ ميليون کوريايي ون کمه، د توليدي کاروبارونو لپاره له ۳۰۰ او خدماتي کاروبارونو لپاره ۲۰ نفره | دشتمنی او کارکوونکو اندازه |
| چين | په مختلفو کاروبارونو کې بيل بيل ډولونه لري اما هغه ادارې چې له ۲۰۰ کم کارکوونکي لري د کوچني او منځنيو کاروبارونو په نامه يادېږي. | د کارکوونکو تعداد |
| ماليزيا | مالی څرخيدل يې له ۲۵ ميليون ماليزيايی رينګيت او کارکوونکي يې له ۱۵۰کم وي. | مالی څرخېدل او کارکوونکو اندازه |

منبع: ساز وکار های تامين مالی

لکه څنګه چې په دوهم جدول کې ليدل کيږي د کوچنيو او منځنيو کارو بارونو تعريف د اسيايي هيوادونو لکه تايوان، فيليپين، سويلي کوريا، چين او ماليزيا لخوا د تعريف معيارونه په جلا ډول وړاندي شوی دي.

**افغانستان کې د کوچنی او منځنيو کاروبارونو تعريف**

د نړيوال بانک د ۲۰۰۸ کال د خصوصي سکتور د مالی پرمختګ تر عنوان لاندې څېړنه تر سره کړې چې کوچنی او منځني کاروبارونه په لاندې ډول ډلبندي کړي دي.

دریم جدول: افغانستان کې د کوچنی او منځنیو کاروبارونو د ډلبندۍ جدول

| کاروبارونه | د کارکونکو تعداد | سکتور<br>تولیدی سکتور<br>په فابریکو او ماشین آلاتو کی سرمایه گزاری | خدماتی سکتور<br>پر وسایلو پانگونه |
|---|---|---|---|
| | | دځمکی ودانۍ او کار جدول | |
| واړه | له پنځه نفرو کم | ۲۵ میلیونه افغانی | ۱ میلیون افغانی |
| کوچنی | د ۵ -۱۹ منځ کی | ۵،۲ تر -۵ میلیونه افغانی | ۱-۲ میلیونه افغانی |
| منځني | د ۲۰-۹۹ منځ کی | ۱۰-۵ میلیونه افغانی | ۲-۵ میلیونه افغانی |
| لوی | له ۱۰۰ زیاد | له ۱۰ میلیونه زیاد افغانی | له ۵ میلیونه زیاتو افغانی |

سرچینه: د نړۍ وال بانک د ۲۰۰۸ کال سروې

لکه ځنگه چې په دریم جدول کې لیدل کېږي، نړیوال بانک کوچني او متوسط کارو بارونه په څلورو کټگوریو ډلبندي کړی دي، چې واړه، کوچني، منځني او لوی کاروبارونه پکې شامل دي. د دوی د بشري منابعو ترمنځ توپیر له 5 څخه تر 100 او له هغه څخه زیات پورې دی، او په تولیدي سکتور کې، د فابریکو او ماشینونو په برخه کې د ذکر شویو موسسو د پانگونې اندازه د 2.9 څخه تر 10 ملیون افغانیو او په خدماتي سکتور کې، د تجهیزاتو لپاره د پانگونې اندازه له 1 څخه تر 5 ملیون افغانیو پورې اټکل کیږي.

همدارنگه د صنعت او تجارت وزارت د کاروبارونو د پراختیا پالیسی اړوند هغه کاروبارونه چې ۵-۱۹ کارکوونکي لري د کوچنی او منځنیو کاروبارونو، هغه سازمانونه چې د ۲۰-۹۹ پورې کارکوونکي لري د لویو سازمانونو او هغه چې له ۵ څخه کم کارکوونکي لري د وړو کاروبارونو پپه ډلبندۍ کې شاملوي.

د ۲۰۰۱ کال را په دیخوا کله چې افغانستان د بازار اقتصاد ته مخه کړه، خصوصي سکتور چې ۸۵ سلنه کوچنی او منځني کاروبارونه تشکیلوي، د اقتصاد د ودې ماشین په توگه و پیژندل شو. د بهرنیو مرستو زیاته برخه د بهرنیانو له لوري په مصرف رسیده، زمونږ دولت ته دیادو مرستو د کارونې او مصرف اجازه د نشت برابر وه تر څو په کوچنی او منځنیو کاروبارونو کې یې په مصرف ورسوي. که چېرته یاده برخه کې پانگونه شوې وای او یا لازم سهولتونه ورته برابر شوي واي په اوږد مهال کې به خامخا د اقتصادي ثبات لامل کېدل. اوسنۍ ستراتیژي په خاص ډول د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو برخه کې چې په ۲۰۰۹ کال کې وروستۍ شوې ده، د هغو اجناسو په تولید زیات تمرکز لري چې د وارداتو مخه ونیسي. په ورستیو

لسیزو کې فابریکې له زیاتو ننګونو سره مخ وې لکه رقابت، مهارت او نوښت، د اوږد مهال لپاره پاینښت او ورته نورې ستونزې (بانک جهانی، ۲۰۰۸).

**د افغانستان د اقتصاد لپاره د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو اهمیت**

د یادو کاروبارونو اهمیت په لاندې ډول بیانوو.

1. **ګومارنې:** کوچنی او منځني کاروبارونه د کاري فرصتونو برابرولو کې لویه ونډه لري شاید اوږمهال کې د عمومي استخدام لویه برخه په کار و ګوماري. په افغانستان کې ۵۰۰۰ کوچنی او منځني کاروبارونه فعال دي چې زیاته برخه یې کابل کې فعالیت کوي، په داسې حال کې چې ۵۰٪ کاري قوه او ۵۰٪ ناخالص داخلی تولیدات او ۲۰-۳۰ سلنه صادرات د یاد سکتور له لوري چمتو کیږي.

د یادو فعالیتونو په برخه کې ښځینه هم فعاله ونډه لري، د هېواد د قالینو صنعت ۸۰٪ د ښځو په واسطه مخته وړل کیږي، وچې مېوې ۷۰٪ د ښځو په واسطه تکمیل کیږي. بدبختانه چې د تر ټولو کم عاید دوی ته ورکول کیږي. بنا ویلی شو چې کوچنی او منځني کاروبارونه د بیکاري په کمولو کې مهم رول لوبوي. ارقام او عددونه د دې ښکارندویی کوي چې د یادو کاروبارونو ۳۰-۴۰ سلنه د عمومي استخدام په برکې نیسي. یاد کاروبارونه د هېواد زیات وګړي په کار ګوماري او په کار برابرولو کې موثر واقع شویدي (د سوداګرۍ او صنایعو وزارت).

2. **د بېوزلۍ کمول**: له ۲۰۰۱ کال را وروسته افغانستان نا انډوله اقتصادي وده کړې ده چې زیاتره په ښاری ساحو متمرکز وو او په ورته وخت کې د ۲۰۰۳ -۲۰۰۹ پورې د ملي ناخالص تولیداتو ۹۰٪ زیادت د لاندې څلورو لویو سکتورو په واسطه چې په ښارونو کې فعال وو منځته راغلی.

ترانسپورت او ارتباطات، ساختمان، دولتي خدمات او تولیدات چې یوه یې هم د لرې پرتو خلکو په بېوزلی ختمولو او ښېرازۍ کې کوم خاص رول نه درلود بلکه اکثره د هېواد ښاري وګړي د یادو ادارو له خدماتو او پرمختګ څخه مستفید شویدي.

څرنګه چې زمونږ هیواد کې د لویو اقتصادي فعالیتونو لپاره لازمې اسانتیاوې نشته په دې خاطر د بېوزلّۍ کمولو، ودې او پرمختګ لپاره بهترین بدیل کوچنی او منځني کاروبارونه دي، چې د کلیو او ښار ډېرو خلکو منلې چې د بېکارۍ کمولو او غربت مخنیوي کې کوچنی او منځني کاروبارونه زیات رول لري او باید نوره وده هم ورکړل شي.

د سوداګرۍ او صنایعو وزارت د اقتصادي پالیسي مطابق د ۲۰۱۲-۲۰۱۵ کلونو منځ کې د غربت له منځه وړلو په موخه لاندې اقدامات کړي.

1. د ولایتونو په سطحه د اقتصادي ودې تر نامه لاندې د پروګرامونو رامنځته کول تر څو د ولایتونو په کچه د اقتصادي ودې ارزیابي په مختلفو نقطو کې معلومه کړي.
2. د کابل ولایت په لرې پرتو سیمو کې د بازارونو جوړول تر څو غریب ښاریان ترې ګټه واخلي.
3. **د صادراتو زیاتوالی**: په ۲۰۰۱ کال کې د افغانستان د صادراتو اندازه ۱۰۰ میلیون ډالره وه په داسې حال کې چې ۲۰۱۲ کال کې یاده اندازه ۴۷۰ میلیون ډالرو ته زیاته شوې ده او په اوسنیو وختو کې د اقتصادي بندیزونو باوجود بیا هم نسبتا په ښه حالت کې قرار لرو. د غیر معدني اجناسو صادراتو کې زیاتوالی دولت د اقتصادي ستراتیژیانو مهمه برخه بللی. د کوچنی او منځني کاروبارونو د تمویل لپاره، څو یاد کاروبارونه نویو تجارتي بازارونو ته لار پیدا کړی، شتون لري لکه وچې مېوې، غالی، طبی بوټي او ځینې حیواني محصولات لکه وړی، پوستکی او نور چې صادارتو کې یې پاموړ زیاتوالی راغلی دی. د مرمر ډبرې او تازه میوې د هېواد نور صادراتي توکي دي.
4. **د وارداتو بدیل**: د ۲۰۱۰/۲۰۰۹ کلونو کې د افغنستان واردات د ۸,۲ میلیون ډالرو په خواوشا کې وو، چې د صادراتو ۱۷ برابره کیږي. دا چې افغانستان د صنعتي کېدو برخه کې د ګاونډی هېوادونو د رقابتي زیاتو ستونزو سره مخ دی، دولت هڅه کوي د صادراتو اندازه د کوچنی او منځني کاروبارونو او معدني موادو برخه کې زیاته کړي او د هغه توکو تولید باندې کار وکړی کوم چې په زیاته اندازه واردیږي. د کوچنی او منځنیو کاروبارونو د استراتیژی مطابق په اوسط ډول د ۵۰۰ میلیون ډالرو په اندازه وارداتي بدیل لرو.

**افغانستان کې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو فرصتونه**

افغانستان او په خاص ډول کابل ښار د تجارت، پانګونې او کوچنی او منځنیو کاروبارونو لپاره له فرصتونو ډک ښار بلل کیږي. کوچنی او منځني کاروباریان په داسې برخو کې پانګونې کوي چې د نسبی او مطلق ښېګڼې درلودونکی او په داخلی معیارونو برابرې وي.

افغانستان او په خاص ډول کابل ښار کې په کوچنیو او منځنیو کاروبارونو کې د پانګونې په برخه کې لاندې فرصتونه شتون لري

1. د د داغمو برخه کې پانګونه
2. د روغتیا برخه کې پانګونه
3. د تکنالوژي برخه کې پانګونه
4. د خوراکی توکو په برخه کې پانګونه
5. د ښیښې تولیداتو په برخه کې پانګونه

6. د قرطاسيې توليد کې پانګونه
7. د سينګار او کالو برخه کې پانګونه
8. د مينځلو موادو په برخه کې پانګونه
9. د ودانيزو موادو برخه کې پانګونه
10. تعليمي او تحصيلی برخو کې پانګونه
11. د غير الکولي مشروباتو په برخه کې پانګونه

**په هيواد کې د کوچنيو او منځنيو کاروبارونو ستونزې**

د کوچنيو او منځنيو کاروبارونو ستونزې په دوه برخو تقسيم شويدي.

1. **د کوچنيو او منځنيو کاروبارونو داخلی ستونزې**: دکاروبارونو داخلی ستونزې هغه دي چې سازمان يې کنټرولولای شي. لکه:
   1. **د مالی سرچينو کموالی**.
   2. **د مسلکی او فني پوهې کموالی**.
   3. **مديريتي ستونزې** چې د کاروبارونو عمده مديريتي ستونزې عبارت دي له؛
      1. د کاروبارو د شروع په اړه کافی معلومات نه لرل.
      2. د کاروبار مخته وړلو لپاره د واضح او جامع ليدلوري نشتون.
      3. د سمې رهبري نشتوالی.
      4. د واضح کاري پلان نشتوالی.
      5. د راتلونکې لپاره د ستراتيژی نشتوالی.
      6. د بازار په اړه کافی معلومات نه لرل.
      7. د بازار موندنې کافی مهارتونو نشتوالی.
      8. د ګومارنې منظم سيستم نه لرل.
      9. د دفتر داری، مالی او اداري منظم سيستم نشتوالی ( ضياء، ۲۰۲۰).
2. **د کوچنيو او منځنيو کاروبارونو بيرونی ستونزې**: هغه ستونزې چې د کاروبارونو څخه بهر وي او کاروبارونه يې د کنټرول صلاحيت او امکانات نه لري د بهرنيو ستونزو په نامه يادېږي.

په لاندې ډول د کاروبارونو د بهرنيو ستونزو يادونه کوو:

1. په يو هيواد کې اقتصادي او سياسي ستونزې.
2. تکنالوژي د محدود لاس رسی

3. د نړیوالو مرستو او همکاریو کمښت.
4. د زیربناو کمښت.
5. مالي او اداري غیر مسلکي مدیریت.
6. ځمکو ته محدود لاسرسی.
7. د ځینې تقنیني او تخنیکي اسنادو پیچلتیا ( ضیاء، ۲۰۲۰).

**مناقشه**

داخېړنه د تېرو څېړنو لاسته راوړنې تائیدوي، ځینې عوامل او ستونزې چې د ځینو محدودیتونو له امله تېرو څېړونکو نظر کې نه وو نیولي، کوښښ مو کړي چې په دغه څېړنه کې هغه د نویو عواملو په توګه مطالعه کړو.

سروش هېواد کې د غربت او بېکارۍ کمولو کې د کوچنی او منځنیو کاروبارونو رول تر عنوان لاندې څېړنه کې د کار زمینه برابرول له مهمو مسائلو ښودلې و چې ۲۰۱٦ کال کې له ۴۰٪ زیات پر شرایطو برابر کسان یې بېکار ښودلی وو، په داسې حال کې چې هر کال په زرګونو نور ماهر کسان یادې کټګورۍ ته داخلیږي. زیاتر مخ پر ودې هېوادونو ثابته کړې ده چې کوچنی او منځني کاروبارونه د کاري فرصتونو برابرولو نه یوازې بیکار کسان په کار ګوماري بلکې دولتي بېکاره کسان هم په کار ګماري.

په دغه څېړنه کې څیړونکی په دې نظر وو چې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو د ودې په پایله کې د غربت کچه کمیږي او همدارنګه څیړونکی له دې نظر سره موافق وو چې کوچنی او منځني کاروبارونه د ګومارنې سطحه په لوړولو کې ډېر موثر دی.

د سوداګرۍ او صنایعو وزارت د راپور په اساس کوچنی او منځني کاروبارونه د هېواد له ۵۰٪ زیات کورنی ناخالص تولیدات تولید او له ۷۵٪ زیات کاري فرصتونه د همدې سکتور له خوا تولید شوي دي. د OECD راپور چې په ۱۹۹۹ کال کې خپور شوي د نړۍ ۴۸-۸۸ سلنه ګومارنې د یادو سکتورونو په اساس ښیي. ۷۵٪ نوي کاري فرصتونه د نویو منځته راتلونکو کاروبارونه په واسطه رامنځته کیږي چې د ګومارنې، او بېکارۍ له منځه وړلو برخه کې زیات رول لري ( د سوداګرۍ او صنایعو وزارت، ۲۰۱۲).

صدف او ظفر د پاکستان اقتصادي پرمختګ کې د کاروبارونو رول تر عنوان لاندې څېړنه په ۲۰۱۷ کال کې تر سره کړې چې پایلې یې داسې وې: د پاکستان، چین او هند هېوادونو د اقتصادي ودې اصلی لامل د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو وده وه. د سرته رسېدلې څېړنې په اساس د پاکستان ۳۰٪ صادرات، د هند هېواد ۴۰٪ ناخالص داخلی تولیدات او چېن ٦۰٪ ناخالص تولیدات د یادو کاروبارونو په واسطه تولیدیږي. کوچنی او منځني کاروبارونو پاکستان کې ۳,۲ میلیون کسان په دندو ګومارلي ( ظفر و صدف، ۲۰۱۷).

**پايلې**

یاده څېړنه کې له ګډ یا مختلط میتودګټه اخیستل شوې چې په پوله کې معلومات له یوې پراخه کره کتنې او دویم لاس معلومات پرمټ ترسره شوې ده. کوچنی او منځني کاروبارونه د یو ځانګړی تعریف درلودونکي نه دي بلکه د هر هیواد اقتصادي او ټولنیز حالت ته په کتو سره د کارمندانو، پانګې څرخېدو او نورو معیارونو په نظر کې نیولو سره تعریف شویدي.

د څېړنې پایلې په ګوته کوي چې کوچنی او منځني کاروبارونه د ګومارنې فرصتونو، غربت کمولو، صادراتو زیاتوالي او بدیل وارداتو تولید او بالاخره د اقتصادي ودې سبب کیږي.

د افغانستان په شان هېوادونو ته د کوچنی او منځني کاروبارونو پراختیا د ځانګړي اهمیت درلودونکې ده. د لویو اقتصادي پروژو تطبیق لپاره د زیربناوو او کافی پانګې نشتوالی، د کمزوری اقتصادي حالت په خاطر زیاتره اقتصادي پروژې د کمې مودې لپاره پلي کیږي. معلومه ده د هېواد زیاتره وګړي د غربت تر کرښې لاندې ژوند کوي او بېکاري هم زیاته ده، نو کوچنی او منځنیو کاروبارونو ملاتړ ضروري ده، ځکه یاد کاروبارونه د هېوادونو د اقتصاد هسته یا مرکز بلل کیږي او د بېکارۍ په کمولو کې مهم رول لری.

د نړۍ زیاتره هېوادونو د کوچنی او منځنیو کاروبارونو د ملاتړ سیاست ته مخه کړې او د یادو کاروبارونو د پایښت او منځته راتګ لپاره هر ډول فعالیتونه سرته رسوي لکه لاندې سیاستونه: د زیربناوو سیاست، د مالی اعتبارونو سیاست، تخنیکي او روزنیزې تګلارې، مشورتي سیاست، د بازار سیاست او بازار څېړنه.

دکوچنی او منځني کاروبارونو د پرمختګ برخه کې دولت لاندې څلور مهمې دندې لري: پالیسي برابرول، د اسانتیاوو رامنځته کول، تنظیم او همغږي کول.

له بل پلوه د پانګوالو ځانی او مالي امنیت، د کورنیو تولیداتو ملاتړ، د کاروبار ښه والی په پار د مسولو وګړو او پانګوالو تشویقول د کاروبارونو په وده کې موثر تمامیږي. د پانګوالو د مالی او ځاني امنیت، کورنیو تولیداتو نه ملاتړ، د مسولو کسانو ښه کار او سلوک نه کول، کار اهل کار ته نه سپارل، د مسلکي کسانو تیښتې او امنیتي حالت ته نه متوجې کېدل د نویو کاروبارونو د له منځه تلو او د نورو د ودې نه د لوېدو سبب کیږي. پایلې په ډاګوي چې مخ پر ودې هېوادونو کې کوچنی او منځني کاروبارونه د بېکاره او دولتي اضافه کارکوونکو لپاره د کار زمینې برابروی.

**وړاندیزونه**

د څېړنې څخه لاسته راغلو پایلو کې د کاروبارونو د ودې او پرمختګ لپاره د دولت پاملرنه اړینه بلل شویده. ځکه د کاروبارونو ملاتړ او وده د عاید لوړولو، ګومارنو زیادت او غربت کمولو کې مناسبه او ښه

لاره ده. د بې حده زیاتي بېکارۍ او نویو کاروبارونو د له منځه تللو لپاره لازمه ده دولت د کاروبارونو د ودې او پرمختګ په پار ملاتړ وکړي:

په هیواد او په خاص ډول کابل ښار کې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو اهمیت، ستونزو او اقتصادي اثراتو تر عنوان لاندې څېړنې د لاسته راغلو پایلو په نظر کې نیولو سره لاندې وړاندیزونه وړاندې کوو:

1. کوچنیو او منځنیو کاروبارونو ته د پولي سرچینو برابرولو اسانتیا.
2. د پانګوالو مالی او ځاني امنیت ته توجو کول.
3. د کوچنی او منځنیو کاروبارونو سروې او سمه پیژندنه.
4. نویو بازارونو ته د لاس رسي په پار د کاروبارونو ظرفیت لوړول.
5. د فعالیتونو پراختیا او تجهیزاتو پیر په پار کاروبارونو ته قرضو ورکولو او بانکی راکړو ورکړو کې اسانتیا رامنځته کول.
6. د کاروبارونو د پراختیا لپاره د لنډ مهاله، منځ مهاله او اوږد مهاله پلانونو برابرول.
7. د داخلي تولیداتو نه د استفادې په پار د خلکو ذهنونه جوړول څو داخلی تولیدات حمایه شي.
8. د ځواب ویونکي کریکولم په پار د خصوصی او دولتی سکتور همکاري تر څو واحد او کامل کریکولم ولرو.
9. د کاروبارونو رسمي کېدواو رجستریشن پروسه اسانه کول.
10. د مرکزي اسیا هېوادونو سره ښې اړیکې منځته راوړل.

**منابع**


- سلطانی، زهراء خوشنود، زهراء اکبری آالشتی. (۱۳۹۰). گزارش سازو کارهای تامین مالی شرکتهای کوچک و متوسط تهران، چاپ بانک مرکزی اسالمی ایران.
- مدثر ذبیح الله. (۱۳۹۵). عوامل رشد وانکشاف تشبثات کوچک و متوسط در کشورهای در حال انکشاف، مجله علمی پوهنځی اقتصاد، شماره (۱۰)صفحات ۲۱-۲۸ کابل.
- مشعل، مجیب. (۱۳۹۲). توسعه تشبثات کوچک و متوسط و تجارت منطقوی در افغانستان، کابل.
- وزارت تجارت و صنایع. (۱۳۹۳). فرصت های سرمایه گذاری، کابل.
- وزارت تجارت و صنایع. (۲۰۱۷). ریاست تنظیم و انکشاف امور تشبثات کوچک و متوسط، کابل.
- وزارت تجارت و صنایع. (۲۰۲۲). بهبود رقابت در تشبثات کوچک و متوسط در کشور های عضو همکاری‌های اسالمی، کابل.
- وزارت تجارت و صنایع. (۲۰۱۵). پالیسی اقتصادی وزارت تجارت و صنایع برای رشد تشبثات، کابل، وزارت تجارت و صنایع.
- اطاق‌های تجارت و صنایع. (۲۰۱۳). سروی کار وبار، کابل، اطاق های تجارت و صنایع.
- شیرازی، حبیب. (۱۳۹۰). برسی ایجاد و توسعه کسب و کارهای کوچک در رشد اقتصادی ایران، ایران، انتشارات سمت.
- شینواری، نصیبه. (۱۳۹۵). پیامدهای اقتصادی ایجاد تشبثات کوچک و متوسط، کابل، پوهنتون کابل.
- مصطفی، صدف، ظفر، احمد. (۲۰۱۷). تشبثات و نقش آن در انکشاف اقتصاد، پاکستان کراچی.
- سروش، عبدالکریم. (۱۳۹۵). نقش کسب و کار های کوچک و متوسط در کاهش فقر و بیکاری در کشور، کابا، مجله پوهنځی اقتصاد.
- حلیمی، عبدالملک. (۱۳۹۶). نقش کسب و کارهای کوچک و متوسط در کاهش فقر وبیکاری در افغانستان طی سال‌های 1380 الی 1394، کابل.
- انالویی، فرهاد، کرمی، آژدر. (1389). مدیریت استراتیژیک در صنایع کوچک و متوسط چاپ دوم، تهران، انتشارات امیر کبیر.
- آصفی، حسیب هللا. (1394). چالش‌ها وفرصت‌های موجود در توسعه تشبثات کوچک و متوسط در شهر کابل (تیزس ماستری)، کابل، کتاب خانه پوهنځی اقتصاد.